


Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پیژندنه

||||||||||||||||||||||||||||

د کتاب نوم : پایکوب

لیکوال : عبدالباري جهاني

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پايکوب شاعر

پايکوب د ښاغلي عبدالباري جهاني دويمه شعري ټولگه ده، چې لومړی ځل په پېښور او دوه ځله نور په کوټه کې چاپ شوې ده، تر دې وړاندې د ښاغلي جهاني ورکه مېنه نومې شعري ټولگه خپرې شوې ده، چې زيات ښکلي شعرونه يې په کې راغلي وو، تر پايکوب وروسته مو ښاغلی جهاني د سباوون په تمه نومي کتاب په لوستلو خوشحالوي او تر هغه وروسته يې شپېلۍ خپره کړه. چې په دې کتاب کې يې هم خپله هنري ځلا موږ ته راښوولې وه.

جهاني په اوسمهالې پښتو شاعرۍ کې يو بېساری نوم او دنگه ښکلا ده، چې خلک يې ياغي او باغي شاعر هم گڼي، هغه که د مسافرت پر کړاوونو ژړېدلی دی، د زاهد د زهد او پرهېزگارۍ بندونه يې هم نړولي او هغې نړۍ ته يې پناه وړې ده، چې سپينې ورېځې د پرښتو کورونه، غرونه د جلال او غرور سمبول او اوښکې د مظلومانوستره وسيله وي، چې ستر زبرځواکونه هم له پښو غورځوي.

د ده له شاعرۍ او ښکلي تخيل سره زيات کسان مينه لري او تل به يې د راډيو له څپو يا هم خپرونو څخه د ده شعرونه لوستلي او اورېدلي وي، دا دی د اکثرو مينه والو دعا پوره شوه او اوس مو پايکوب د انټرنټ نړۍ ته هم دننه کړي، چې موږ ټول يې په مينه مينه هرکلی کوو.

په دې هيله چې د ښاغلي جهاني د شعر مينان د هغه له شعرونو خوند واخلي، موږ دا کتاب په انټرنټ کې ږدو، هيله ده چې د مينه والو د ذوق تنده ماته کړي.

په درناوي

د ټول افغان سمبالوونکي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غــزل

په ژوند مي نصيب نه سوې جنازې ته دي درځم

د يار د وصل خياله هـديـرې ته دي درځم

يوه تشه وعده يې د ځوانۍ په بيه غواړم

سوالـګر نه يم آسمانه چي کاسې ته دي درځم

منم چي تر منزله يې سکر وتـې دي کرلي

دا لار په ما ودانه ده کوڅې ته دي درځم

يوه لحظه دي مخ له رقيبانو پـټـومـه

لمبې خاموشه نه سې تماشې ته دي درځم

دا ستا د ميني اور دی چي محفل رنـګينومه

پانوس رنګه بلېږم بدرګې ته دي درځم

اختيار يـې لـه اقـرار سره جوړه را څخه يو وړ

يو نذر د خليل يمه چړې ته دي درځم

سنـګسار مي رسوا نه کړي مېخانې د خلوتونو

يو شور لا جوړومه غرغړې ته دي درځم

د هوښ پر لارو نه دی جهاني منزل د وصل

جنونه ځان تيار که زولنې ته دي درځم

ويرجينا /3/1/1993

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پایکوب

زموږ یې لاسونه په ګناه ولړل

دوی د زنار غوټې شلولې راته

موږ یې د جام نوبت په خُم واړاوه

دوی د دوږخ نارې وهلې رات

زموږ د مستۍ نارې آسمان ته ختې

ساقي سېګراب د ترِو زړونو کاوه

زاهد د سترګو تر کونجو کتله

ده لا حساب د ګناهونو کاوه

دوی لا خبري د کوثر کولې

موږ د خيالي جنت قصرونه وران کړل

دوی یې په تشو پيالو وغولول

موږ یې د ميو ډك خُمونه وران کړل

دوی په کوډل کې وزرونه خلاص کړل

موږ ته زندان د الوتلو نه و

دوی له نرې بارانه وتښتېدل

موږ ته سېلاب د ټينګېدلو نه و

موږ د آزادو الوتو په خاطر

دلته قفس کې وزرونه مات کړل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا د زندان پـنـجـرې مـاتـې کـړلـې

چـا پـه سـوکـونـو کـې لاسـونه مات کړل

مورې د یوې مستې شېبې په خاطر

ځان د گـر داب و بد مستۍ ته ورکړ

د دې اوږده مړاوي ژوندون عوض مو

یوه گـړۍ و پـایـکـوبـۍ ته ورکړ

1975مارچ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غــزل

پـیـالـې نـسـکـوروم دي تـشـومـه خو دي نه

نـصـیـبـه بـدلـوم دي قـبـلـومـه خو دي ن

تـقـدیره زولـنـې دي د جـانـان تـر کوڅې وړمه

زنــدانـه نړوم دي تـېرومـه خو دي نه

ازل مـي لـېونـتـوب دی له نـامـه سره کـړلـی

گـرېـوانه څـیـروم دي ټـولـومـه خو دي نه

د سـر سودا منـمـه خو چې سر ټـیـټـو ل غواړي

قـاصـده سـتـنـوم دي ورلـېـږمه خو دي ن

خـالـق مـي کـکـرۍ سجدې ته نه ده پیدا کړې

تـنـدیـه مـاتـوم دي لـګومـه خو دي نه

یـاغـي یـم د فـریـاد دپـاره نـه یـمـه راغـلـی

آسـمـانـه کنګـوم دي ژړوم خودي نه

د غره پر ژبه غواړم د شیریني د نوم ذکر

جـنـونـه پاروم دي ویـدومـه خو دي نه

زخمونـه د حبیب دي د طبیت کوڅې ته نه ځم

پــرهـاره شوړوم دي رغـومـه خو دي نه

چې هر محراب تـه ځـمـه ستا جلوه پکي بـلـیـږي

د یار د تـصـویـر خـالـه هېرومه خو دي نه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي شمېر د جهاني د ګناهونو باندي کيږي

زاهده رندوم دي خپلومه خو دي نه

واشنګټن ، 92 ــ 27 ــ 12

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اسحق ننګيال ته

دهغه د ماضي پاڼه شعر په جواب کي

يو خاموش پيغام مي مات کړل
د اوړدو خيالو لاړونه
تر غوړونو يې راتېر کړل
څو اشنا غوندي ږغونه

خوبولي سترګي موړم
يو نغمه مي تر غوږ کيږي
په رګو کي ويني ناځي
د زړه مراندي مي شرنګيږي
دا ته څوك يې چي کرې مي
په مړه وينه کي سندري
لټوي مي ويښوي مي
په رګونو کي بخري

دا ته څوك يې چي لونې مي
په سينه کي سره اورونه
ستنوې مي د زړه کور ته
د عمرو تللي خيالونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا تـه څـوك يې چي لا ويـنـې

په دښتـونـو كي لـښكـري

لا دي گـرځـي په رگـو كي

د تــاريـخ زړي خــبـري

دا تـه څـوك يـې چـي لاستـايـې

زما د لوړو غــرونـو څـوكي

لا غوړو ته در رسـيـږي

ملالۍ مــيـونـدۍ كـړيـكي

دا تـه څـوك يـې چي لا مست يې

د پرون په زړه ويـنـه

لا دي اوس هم زرغـونـيـږي

پـه كـوگل كي نوې مـيـنـه

لا پـه شــپـو كي درسره دي

زموږ د ننگ يـاغـي خـوبـونـه

لا دي څـاڅـي له قـلـمـه

نــاويـلـي تـعـبـيـرونـه

ستـړي روح ته مي را رسي

له تـيـارو نه ستـا ږغـونـه

تـخـنـوي مي ويده ويـنـه

ستـا شـعـرونـه ستا نـظـمـونـه

دلـتـه ويـنـمـه له ورايه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د خیال یاغي وزري

د زمان په کړلېچونو

له توپان سره ډغري

زیږه ژبه دي جارېږم

د ماضي پاڼه مي وایه

خېبرونه میوندونه

راته ستایه را ته ستایه

ماته هم بخري راوړه

لږ مي نظم ته اور ورکه

لږمي پا ځگوه چي خوځو

لږ ما هم په چیغو سرکه

زه یې وینم چي لاهو ده

د قسمت په توپانو کي

ړنگه بنگه بېړۍ درومي

لاره باسي په ځگپو کي

زه یې وینم چي پرې اوري

لکه غشي تندرونه

هره خوا ورته اړم دي

د ازل وحشي موجونه

زه یې وینم چي ماتیږي

لوی موجونه لکه غرونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قسمت ساحل تـه لنډ سول

د پېړۍ ستړي مزلونه

ما لیدله چي فلك ته

خپل موجونه توپاني سول

د تقدیر څخه لار ورکه

تدبیرونه یې یاغي سول

د شفق له پلوشو نه

را څرگند سول رباتونه

د امید پر مزله اوړي

جرسونه کاروانونه

خو زما سیوری پکي نسته

نا اشنا ښکاري گامونه

زه له ځانه پردی سوی

بېگانه مگي دي خیالونه

ویرجینا ، 90 ــ 6 ــ 12

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غــزل

ّسمـانـه بيا لـكه چي نوي افسانې جوړوي

چي سـر پـر سر مي پـرهـارونـه پـر سينې جوړوي

کـه دي مـجنون د تـورو زلـفـو رابـللـی نه يـم

وايـه حـلـقـه پـر حـلـقـه چـاتـه زولـنـې جوړوي

خـونـي منـګـول دي شـاهدي د فيصلې ورکوي

د غـمـازانـو پـه خـولـه ولـي بـهـانـې جوړوي

شـيـخـه آّخـر بـه سي رسوا د مېـفـروش پـورونـه

تـرڅـګو بـه پـټـي پـه خلوت کي ميخانې جوړوي

در څخه ورکـي دي سـاقـي زما د ازل فـېـصلـې

چي د اغيار دپاره ډکي پېـمـانـې جوړوي

اوښکي يـې ستا لـه بـې فريـاده سوځېـګـدلو نه دي

پـتـنـګـه ولـي پـه لـمـبـو کي آّشـيـانـې جوړوي

له هر قـدمـه سره ښخ دي فـريـادي عـرضـونـه

جنـونـه څو لا پـه دې لار کي هـديـرې جوړوي

د جـهـانـي رنـځـوري شـپـې د ختمېـګـدلو نه دي

طبـيــبـه ولـي رقـيـبـانـو ته پـلـمـې جوړوي

89/ 8/ 7

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## افسانه

یو ورځ به زما او ستا د مینې کیسې

لکه خزان را رژولې پاڼې

لکه زیارت کې لېګدلې سوځېدلې شمعې

لکه ماشومې هیلې سوې سلګۍ

د خلکو هیرې وې او وړې به وې

د زمانې توندو وحشې بادونو

د دغه سیند پر غاړه

د دغې ګارې ترڅنګ

چې همېشه د یوه بل په غېږ کې

د زمانې له بدو سترګو لیرې

کله کیسې ، کلکه ګیلې ، کلکه قولونه کوو

نورې به زموږ د پلونو نخښې نه وې

پېړۍ به تیرې وې

او بیا به دلته

د همدې ګارې ترڅنګ

د بلې مینې افسانه جوړیږي

او بیا به ستا په شانې ښکلې نازولې نجلۍ

د چا په غېږه کې خوره وره وي

قسمت به هم لکه چلبازه جادوګره بوډۍ

د هر غروب سره وعدې د سباوون ورکوې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سیند پر غاړه به دګاري ترڅنګ

ځي راځي

خو د نیسم سره به

ملګري نه وي زما او ستا زمزمې

10 ـ 30 ـ89

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ابـليس وخـنـدل

خالق دا ښکلې دا رنـګينه مځکه

د هسکو غرونو د لعلونو د سيندونو سره

انسان ته وبخښله

او په سينه کي يـې ورکېګـښودله خپله مينه

خو ده په زړه کي د شيطان په لمسه

د سرو او سپينو او د خاورو مينه وروزله

د همدې مينې په خاطر يې د ورور ويني توئکړې

د فرشتو له سترګو اوښکي راغلې

او شيطان و مسيدئ

د همدې مينې په خاطر يـې اولسونه اېل کړل

د يوه لوی سپه سالار په نوم پوځونه جوړ سول

مځکي يـې لاندي کړلې

جونـګړي ونړېګـدې

د سرو او سپينو خزانې جوړې سوې

سپه سالار له خپله ښاره کلا وګرځول

او د بل ښار د خزانو په طمع وخوځيدئ

توري را و وتلې

چړې په وينو سولې

سرونه و رغړېګـدل

کلي لمبه لمبه سول ښار او کوڅو اور واخيستئ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپه سالار ښځې له ښاره څخه لیرې یوړې

او په تاوده یې کړل د سود او د سودا کونجونه

کتار کتار ځوانان یې و درول

د ټولو زړونه رپېدل سترګې یې هیښې پاته

او یو ګړی را وروسته

د لوی پېګشوا په حکم

لکه برګونه د خزان سرونه و رژېدل

فرشتو وژړل شیطان له خوښۍ و نڅېګدئ

پېړۍ پېړۍ د جنګ لمبو ښارونه و سوځول

د بې خبرو د ناپوهو خلکو

د برېګتورو د غښتلو اتلانو

د زمرو په وینو

د غرو لمنې د ښارونو کوڅې و رنګېدې

او یوه شپه څه کرغېړنې شیطانې وسوسې

د کوم ظالم سپه سالار و زړه ته لار پیدا کړه

فوج یې را وباله لښکرې یې راجمع کړلې

او د دښمن د ستر معبد خواته یې مخه کړله

د فرشتو زړونه بیا و رپېدل

او پر شیطان له خوشالیه جامې تنګې سولې

سپه سالار د خونې فوجه سره

په لار کې کلې، درمندونه لوی ښارونه چور کړل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر څه یـې و سوځول

د غرو لمنې بیا په وینو سرې سوې

دښتونه و رنـګېدل

هدیرې ډکې سولې

له ښاره پورته سوې د ښځګـو ماشومانو چیغې

او د پوځونو له هېبته مځکه سره تبې سوه

سپه سالار لـکه خونې ځناور

سترګې یـې سرې وې غړومبېدئ لـه قهره

ایستلې توره د معبد پر لورې و خوځېدئ

او هلته پرې سول پر سجدو باندې پراته سرونه

یو ګړی وروسته معبد و نړېدئ

د خدای پر مېنه لمبـې و ځرخېدې

د لیرې لیرې هیوادونو د بچو سینو کې

د انتقام بځرې وځلېدل

د هر یوه په زړه کې

د تل دپاره د غضب اورونو ځاله وکړه

په آسمانو کې د ملـکو ساندې پورته سولې

او د ابلیس له کوره راغلل د قاه قاه ږغونه

92ـ 14 ـ 12

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تـصـویـر

سږه د ژمي شپه ده زه ستا له یادونو سره

لکه ماشوم په وړانـګو لوبـې کوم

ستا د تصویر مخې ته ودرېږم

او دا یوه لحظه دې خپله کمه

هلته سینه کې غولیدلی زړګی وخوځیږي

او پردی ـ مینې ته ټوپونه وهي

تصویر ژوندی سې سترګې و رپوي

پر شونډو بیا ګرځي زاړه قولونه

بیا د سبا د لمر ختو په طمع

شپه تر سهاره شمعې ولـګیږي

سترګې سوځي

خو یو ناڅاپه د تصویر له سترګو

د ژوند او مینې رڼا وتښتي

قولونه مړه سي

زه او تصویر پاته سو

زه او تصویر پاته سو

او زړه هم نه وهي زاړه ټوپونه

دواړه لاسونه لیوني لاسونه

بـې ارادې د تصویر خوا ته ځغلي

تصویر څیري او ژمنی ـ سکروټـې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمبه لمبه کي د کلو خیالونه

لا یـې لمبه په سترګو وینمه خاموشه نه ده

لا د تصویر بـې نوره سترګي زما پر لور کړې دي

چي په سینه کي مي د زړه په تل کي

ستا له تصویره سره مینه نوی اور بلوي

او په رګونو مي بڅري ګډ سي

نور دي تصویر ته هم کتلای نه سم

یوه لحظه دي خپلولای نه سم

او دا د ژوند سره ملـګري لمبـې

دا په رګونو کي ژوندي بڅري

دا د تیارو دا د رڼا ملـګري

ستا د خیالونو له محله سره

په تصویرونو رویباري نه کوي

12 ـــ 3 ـــ92

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تـيـاره سـبـاوون

رويـبـاره ږنـګـه سـوه د هيـلـو خـونـه

چي دي پـر شـونـډو کيسه ورانه سولـه

پـوه سـوم د وصـل لاري بنـدي سولې

زمـا د نصيب وعـده پښېـمـانـه سـولـه

دا زخـمـي زيـرى به لا څـو پـټـوې

رويـبـاره سـتـرګـي دي رازونـه وايي

د سـحـر بـاد يې جـنـارې راوړلې

نـسيـم پـه سـرو سـتـرګـو ويـرونـه وايي

رويـبـاره تـاتـه سـبـاوون شـكاريږي

زما يې دخيال نيمګړي شپـې ماتي کړې

تـه يـې لـه سـتـرګو نـوى زيـرى غواړې

زمـا پـه لېـمو کي يـې لشي ماتي کړې

زه د غـروب پـه سـتـړو سـرو سترګو کي

د خـپـل ازل رنـځـور خـوبـونـه ويـنم

په الاهو کي وعدې مه راکوه

زه يې پـخـوا لا تـعـبـيـرونـه ويـنـم

هـغـه دي پـورتـه سـوې لمبې له کلي

هـغه دي وراني سوې کوڅې د جانان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــه لالــه زار کي خـزان وغــوړېــدئ

د ګلو ښـار تـه ورشـیـوه سول زاغان

هـغـه دي ځـاځـي لـه شـهـبـازه ویني

د مـطـرب ګوتـو کـي نـغمې سوځېږي

ټـولی ټـولی فـرشـتـې والـوتـلې

فـتـنـې به اوس په ښـار کي ونـڅـیـږي

شپـه د سـهـار پـه غـېږ کي وغـوړېـده

زریـنـي وړانـګـي رخـصـتـونـه غواړي

د ښـار پـه مـنځ کـي بـلا لـنګـه سـولـه

بـاج کښي زلـمـیـو نـه سـرونـه غواړي

شـېطـان خـیـرنـه غـاړه هـسکـه کـړلـه

پـر تـورو شونـډو یـې مـوسکا پیدا سوه

د غره پر سر یې وزر وغوړاوه

د سـتـرګـو اور کي یـې رڼا پـېـدا سوه

رویـبـاره څـلـه مـي زګـېـروي ویدوې

د زړه پـه تـل کـي مـي زخـمونه ژاړي

راته امـېـد د سـبـا مه راکوه

خـوږمـنـو سـتـرګـو کي خیالـونـه ژاړي

دا زمـا پـه بـرخـه لیکل سـوي اوښکي

پـاس پـه لېـمو کي د سـاتـلـو نه دي

زمـا پـه قسمت کي رسېـدلـي کـوځـې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ستنېدلو پرېښودلو نه دي

3 ـ 3 ـ93

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تـنـهـايـي

زما څخه ليري نه سئ خلکو ما يوازې نه کئ

چي زما د شپــې زما د تيارو ملګرى

زما نابللي زما اغزن خيالونه

پر زړه تياره راولي

ما زوکلوي ، ما وېروي

او په تيارو کي راته

زاړه دردونه ويښوي ، نوي زخمونه کري

زه چي يوازي سمه ستاسي په څېر

په ويښو سترګ و جنتي خوبونه ، نه ګورمه

زه د پاوليو شرنـګی نه اورمه

زه په تش لاس کي پيالې نه کړنـګوم

زه د بوډۍ په ټال کي نه زانـګمه

زه چي يوازي سمه

لويه نړۍ را باندي تنـګه سي د قبر په څېر

او بيا اغزن خيالونه

لکه د قبر د چينجيو لښکر

زما په بګــې واکو ماغزو خولې لـګوي

زما نه ژوندون او سباوون هېروي

ما ته مرګی ماته پرون يادوي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ته سايـې د جلادانو ښيـي

ما ته راښيـي سرې ككړې ټُورې

د چا زخمي زخمي سلـګـۍ اورمه

او له يو شړك سره فرياد پورته سي

وايمه چيغې كړم ګرېوان وشلوم

د خداى دپاره ډېوې ولـګوئ

زما څګخه ليرې مه ځئ

زما تنهايـي ما ته د تيرو شپو كيسې راولي

تللي ياران هيرې سايـې راولي

او بيا مې اوښكې د نامرادو مينانو په څېر

د وچيدلو نه وي

زه له پرونه تښتېدلى يمه

بيرته ورتلونكى نه يم

پرون په خوب كې ليدل نه غواړمه

او چې يوازې سم پرون ته ځمه

زما څخه ليرې نه سئ خلكو ما يوازې نه كئ

زه شاعر نه يم چې يوازې سم غزل وليكم

زه مين نه يم چې د زلفو په ټال و زانـګمه

زه مطرب نه يم چې خيالي سورونه و شرنـګوم

زه چې يوازې سم د تلليو آوازونه اورم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه چي يوازي سم تياري وينمه

د خدای دپاره ما يوازي نه کئ

دا ډېوې ولـګوئ ماته ډېوې بلي ساتئ

ورجينا ، 92/ نوامبر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جلوه

زه رباب ته مي شهباز يې

زه نغمه يم ته مي ساز يې

زه مقام يم ته مي سور يې

زه آهنګ يم ته آواز يې

ته لمبه يې زه دي شمع

زه پتنګ ته مي پرواز يې

زه مجنون ته مي جنون يې

زه محل ته مي ممتاز يې

ته مي سر د لېونتوب يې

ته زما د جنون راز يې

هم ناظم يې هم مي نظم

ته هم سوز يې هم ګداز يې

زه له کومي فنا تښتم

چي انجام ته مي آغاز يې

دا د کومي پيالې بنګ دی

چي نشې پکي مستيږي

دا د کومي نغمې شرنګ دی

چي شهباز پکي نخيږي

دا د کومي سلګۍ اور دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـي لـمـبـې پـکـي ویـلـیـږي

دومـره پـوه یــمـه چي تـه یـې

هـم وجـود یـې هـم جـلـوه یـې

تـصـویـــر سـتـا د جـمـال زور دی

مـحـفـل سـتـا د لـمـبـې شـور دی

واشنګټن ، 93/ 15/ 1

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غــزل

دا ډېر کـاږه کاتـه بـه دي ایـمـان لره بـلاسـي
زاهـده هـسي نـه چي خـلوتـونـو ته دي شا سي
پـرون دي لـه محرابـه پښې پر بله خوا کړې سوې
بېـرېږم دي کوڅه کي دي لمونځونه نیمه خوا سي
نیـمـګړې اشارې دي شیخـه سـر بـه سـره ساتـو
جنون مي یـاغـي نـه کـې کنه چیغي به رسوا سي

سکون دی که توپان دی عـقـل نه ویني په سترګو
منزل یـې معجزه ده چي مجنون پـکي لـیـلا سي
مـستـي ده لېونتوب دی صـراحـي راسره څرخي
معذوز یم که له لاسه مي پیاله نیمه خطا سي

بـېـګاه مـي سـوځېـدو ته غـلـې غـلـې ژړېدلې
لـمبـه خـاموشه نه کي چي هستي به مي تالا سي

ګرېوانـه لا یـې غـواړې د سـوالـګرو اوښکو لـېـې
د سترګو په کچکول کي مي د تمي ځای پیدا سي
مـنـظـور سـو جـهـانـي د لـېـونـیـو پـه ټـولۍ کي
نـصیـبـه لـه زنـدانـه بـه دي نن پـورتـه غوغا سي

ورجینا ، 93/ 12/ 2

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سحر وږمې

د مایا انجیلو د انګریزي شعر پښتو ترجمه د امریکا جمهور رئیس بیل کلینټګن د تور پوستي شاعري مایا انجیلو څخه وغوښتل چي د ده د جمهوري ریاست د افتتاحیه مراسمو د ورځي په مناسبت یو شعر ورته ولیکي . مایا انجیلو یو آزاد شعر ورته ولیکئ او په تلویزیون او رادیو کي خپور سو. دې شعر په یو ډول د افغانستان د روانو حا لا تو سره اړخ ولګاوه. نو ما هم هغه پښتو منظوم شکل ترجمه کړ.

ګګاره او سیند او یوه لویه ونه

چي شاهدان دي د اوږدو کلونو

او اوس د هر یوه له څنګه سګره

تښي ښکاریږي د زړو هډونو

د ګاري څنګ ته او د سیند پر غاړه

پلونه پټ کړي د زمان ګردونو

نن هغه ګاره هغه سخته ګاره

نارې وهي چي د آدم زامنو

راسئ دا زما پر اوږو ودریږئ

و وینئ لیري ازلي وختونه

خو زما په سیوري کي به نه پټیږئ

دلته به نه لټوئ پټ ځایونه

خالق پیدا کړاست د ملکو په څېر

خو تاسي عمر په تیارو کي تېر کړ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ورور پـه ویـنـو مـو لاسـونـه سره کړل

ژونـد مـو د جـهـل پـه شپـلو کي تېـر کړ

دلـتـه بـه نـه پـټـوئ تور مـخـونـه

مـاتـه بـه نـه راوړئ خـیـرن لاسـونـه

د دې جـهـان په یوه لـیـري کـونـج کي

د شـنـو او صـافـو اوبو سـیـنـد بـهـیـږي

سـیـنـد د زمـان ښـکلې سـنـدره بـولـي

غـواړي انـسان یـې څـنـګ تـه و اوسیږي

سـنـدره وایـي خـو پـه ویـنـو ژاړي

پـه خـپـلو څـنـډو کـي قـتـلـونـه ویـنـي

پـر خـپـلو شـنـو پـر خـپـلو صـافـو اوبو

د انـسانـانـو مـات هـډونـه ویـنـي

سـیـنـد وایـي مـه سـوځـئ ودانـي خوني

زمـا پـر ښـایـسـتـه غـاړه کـورونه جوړ کـئ

زمـا پـسـتـه غـېـږه سـتا سـي ټولو مال دی

دلـتـه کـي و اوسـئ مـلـکـونـه جوړ کـئ

زه بـه هـر وخـت پـه خپل خواږه آواز کي

درته سـنـدري د زمان بـولـمـه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــه خـواږه ږغ کـي چي خـالـق راکړی

کـیـسـې د مـیـنـي او انـسـان کـومـه

زه بـه د هـغـه وخت سـنـدري بـولـم

چي لا په ویـنـو نه وو سره لاسـونـه

د انـسـانـانـو پر تـنـدیـو بــانـدي

نه وه د قـتـل خـونړي داغـونـه

د سـیـنـد پـر غـاړه یـوې لـویـي وني

په مـیـنـه و زنـګـول شـنـه ښـاخـونـه

ویل یي هـېـر کـئ د آدم زامـنـو

ژبـه مـذهـب او دا د پـوسـت رنـګـګـونـه

راسئ را ټـول سئ زمـا تـر سیوري لاندي

ستاسي دي ګاري سیـنـد او شنه بـرګـونـه

یو ځـلي سـتـرګـي کئ په مـیـنـه روښي

دغــه ښــایـسـتـه سـهـار تـه ومـسـېـږئ

یــو ځلي هــیـري کـئ زړې دښـمـنـۍ

د یـوه بــل پــه غـیـږ کـي و زنـګـېـږئ

یـو ځـل د خـویـنـدو او د ورونـو په څېر

په مـیـنـه وګـورئ او وخـنـدېږئ

ګاري او ونـي او سـیـنـدونـه خـپـل کئ

دا سـاړه سـیـوري شـنـه ښاخونه خپل کئ

1 ـ 25 ـ93

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شنو ښاخلو کوډله

لکه ماشوم په لویه لار کي ناست یم

د خاورو کور جوړوم

یوه کلا ورکي هم بله کلا

او د کلا یوه گوښه کي چېرته

د ټـولو خلـگو له نظره لیري

د یوې وني شاته

د شنو ښاخلو کوډله

او دخیالونو په دنیا کي

له غمونو لیري

د بېلتانه او د جفا نومونه

د خپلي میني په لمبه سوځوم

در نیژدې کېږم درنه خوله غواړمه

ته هم د سترگو لاندي گورې راته

او په موسکا کي مي در بولې ځنـگ ته

د دریو ځلورو لارویو ډله

زما د خیالونو له نړیه بېگانه وگړي

د شنو ښاخلو پر کوډل پلونه ایږدي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د خیالونو له جنته هدیره جوړوي

او بې پروا رهي دي

لا يې د مستو خندا ګانو آواز

په غوږو اورم

چي له سره څګخه

له خپله ځانه بېخبره غوندي

د خاورو کور جوړوم

یوه کلا ورکي هم بله کلا

او د کلا یوه ګوښه کي چېرته

د ټولو خلګو له نظره لیري

د شنو ښاخلو کوډله

90/ 9/ 12

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د غـرور ځـلی

دا مـنـمـه چي مي مـيـنـه پـښـتـنـه ده

دا مـنـم چي لـېـونـتـوب مي ازلـي دی

هـره شپـه مـي ستـا لـه خياله سره تېږ ده

هر يو خوب مي ستا په ياد کي زنداني دی

خو بـېـرېـرم که دي بل ځـګـلي جواب کړم

دا مـغـروره ګـکـرۍ به مي يـاغـي سي

نـور بـه نـه پـالـي سيـنـه د چا يـادونـه

او زمـا پـلـونه بـه دي لاره کـي پردي سي

هـسـي نـه چـي مي د شعر معبد وران سي

هسي نـه چي دا سجدې مي بېګانـه سي

مـرور مـي لـه خـيـالـونـو سي خـالـونـه

لا مي مـاتـه د نـظـمـونـو زولانه سي

ځـکه زړه کي نړوم د غرور ځـلی

او خـوبـونـه غـولـوم ستـا په خـيـالـونـو

که تـه نـه يـې نو يادونه خو مي خپل دي

زه مـالـك يـم د ايـسـتـلـو تـصـويـرونـو

91/ 26/ 8

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مـرغـلـرو امـېـل

د پسرلي په يوه ښکلي سهار

چي غوړېدلي وي پر مځکه د مستيو لمن

چي د خزانه بېـخبره بلبل

زموږ د کړکۍ مخي ته

په نازولو په نازکو په بېـصبره پنجو

د سرو غوټـګـيو ګرېـوانونه څيري

د پسرلي په يوه ښکلي سهار

چي شيخ پرې ايښي وي د ذکر کيسه

چي د زاهد پر شونډو ګرځي د خيام ترانې

په مرغلينو څاڅکو

پرخي پګرېـولي وي غاټـول او ګلاب

زه به راځم او ستا په غاړه کي به هار اچوم

هغه چي تل دي غوښتئ

هغه چي ډېـر دي خوښ و

ستا د خوبونو ستا د هيلو امېـل

پرسپـين بارخو به دي راتوی سي له خوښيه اوښکي

دانه دانه به رغړي

غېـږ به دي وغوړيږي

ما به دربولي څـنـګ ته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښي او بېره به دي پاځي له خوبجنو سترګو

خوښي د سپینو مرغلرو د هار

او خوښي زما د لیدو

بېره مرموزه بېره

د بېلتانه خبري

د جدایي اندېښنه

غېږ به دي و غوړیږي

ما به در بولې څنګ ته

خو زه به لیري یمه

د تندر ږغ به دي راویښه کي له خوبه څخه

او زما پر قبر به باران اوریږي

89/ 24/ 9

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مور چل ځوانه

ځوانه دا څوك يې چې ګولۍ اوروې

د خپل نيكه او د ابا پر كلي

دې هديره كي دي خپلوان پراته دي

څوك يې پرون څوك يې پخوا ويشتلي

بيا غاړه كې د مردكيو ډكه

بيا دي اوږې له راكټونو درنې

بيا د اهار تړي مورچل ته درومي

بيا دي پر سترې مخ را ماتي خولې

بيا لكه باز پر لوړو څوكو ګرځې

بيا دي ميدان ته ستركي سرې نيولي

پر كومو مځكو به مرمۍ اوروې

كومې ځوانۍ دي په قسمت ليكلي

دلته چي ته پر ماشه ګوته ايږدې

هلته له مځكي نه اورونه زيږي

ستا د ګوليو د باران له وهمه

اوس پر دښتونو غوټۍ نه سپړيږي

له هري لويشتي جنازې را پاڅي

د مرګي چيغو كلى كور اخيستى

پر شنو جلګو باندي دودونه ګرځي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوانـه خبـر سوې کابل اور اخیستی

د خدای دپاره ځـوانه مه اوروه

د خـپـل ابا پر مېـنه سره اورونه

پرېـږده وراره دي د ابۍ غېـږه کي

و ویـنـي ګـرم او مـاشـوم خـوبـونـه

پرېـږده چي بیا دا سوځېـدلـي دښتي

د پېـغـلـو څـنـو ته ګلـونـه راوړي

د غـم لـه سـانـدو سترې سوي کوڅې

بـیـا اتـڼـونـو ته ډولــونـه راوړي

پرېـږده چي بیا د شنه آسمان پـر لمن

سپوږمـۍ تـه سـتـوري امېـلونـه راوړي

بـیا د آدم ربـاب نـغـمـې ویښي کـړي

د مـیني خـوب ته تـعـبـیـرونـه راوړي

بلا د ي واخـلـم مـېـړنـیـه ځـوانه

پرېـږده مـورچـل دا د خـونـیانو ځالۍ

دا ستا د پلار ستا د ټبر قـاتـلان

دا د رهــزنـو لـوټـمـارانـو ټـولۍ

سـتـا د ښـادۍ د غـلـیـمـانـو زړونـه

په تـبـاهـیـو بـانـدي نه سـړیـږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د پـردیـو پر کاسو لوی سوي

زموږ بېـګانه په ویـنـو نه مړیږي

پـرېـږده چي سره کي د قدرت لېوني

پـه بـېـګـګـنـاه ویـنـو خـیـرن لاسـونـه

ته لـه مورچـلـه ګـولۍ مه اوروه

ځوانـه واری دي سم کاږه بـرېـتـونـه

ورجینا، 93/ 11/ 2

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**